مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۰/۰۵/۰۷

# د دردونو شرنګا



ما خپل ځان، خپله له ځنځير جوړ کړی

زما د وجود هره کړی کې زر دردونه زانګي

د درد پر لارو چې روان شمه، شرنګا مې خېژي

او له شرنګا سره مې خلک ننداري ته راځي

څوک راپسې خاندي او څوک ګوته په غاښ

ځيني مې ستايي، څوک غندني کوي

خو زه په هرحال کې روان پر لاره

بنه عادت شوی يم له درد او له ځنځيره سره

اوس چې درد نه وي، ځان نارامه ګڼم

چې شرنګا نه وي، ځان ناکامه ګڼم

۲۰۲۰/۰۲/۱۴
کوپنهاګن
ډنمارک



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ